PASHTO
2023-11-09

# د Clarkston عالي ښوونځي د رياضی کلب د کورنی الهام بخښونکي مراسمو کې 37 نوي غړي اضافه کړل

د نومبر په 6 مه نېټه د Clarkston عالي ښوونځي د رياضي کلب د شمولتيا په خپل کلني مراسمو کې د 37 نويو غړو اضافه کولو پېښه ولمانځله. د کلب په کورنی فضا باندې د ټينګار کولو له لارې، د رياضی کلب رييسي Afomia Legesse په ورځني ژوند کې د رياضي اهميت او د ملاتړ کونکي اکاډميک ټولني په وده کې د کلب د رول په اړه خبرې وکړې. کلب ژمن دی چې زده کوونکي د ښووني، سياليو او ټولني خدمتونو له لارې پياوړي کړي، دوی د نړيوال مسؤليت او د ټيم کار راتلونکي لپاره چمتو کړي.

"رياضی هرچيرې په کار راځي، هره ورځ زموږ ژوند ته نوي بڼه ورکوي. زموږ کلب د رياضی، اکاډميک لوړتيا او د ټولني ښکيلتيا لپاره زموږ مينې ته تقويه ورکوي. Afomia وويل چې موږ نه يواځې يو کلب يو، موږ نه يوازې يو غير نصابي فعاليت يو چې موږ يې ترسره کوو بلکې موږ يوه کورنی يو". "يوه داسې کورنې چې يو بل سره مرسته کوي او څوک شاته نه پرېږدي."

د کلب د پوهنځي سلاکار هم د کلب د ټول شموله کړنلارې ستاينه وکړه، زده کوونکو ته يې د ټولو وړتياوو بلنه ورکړه ترڅو په يو مثبت چاپېريال کې رياضي وپلټي.

ښاغلي Rajshekar Choutapalli وويل چې "د رياضي کلب د هرچا لپاره د هغه/هغې د مهارت کچه په پام کې له نيولو څخه پرته د ښه راغلاست ځای چمتو کوي ترڅو په بې قضاوته او د خلاص ذهن فضا کې له رياضی څخه خوند واخلي". "دا زده کوونکي هڅوي چې د خوندورو او مختلفو طريقو له لارې په رياضی کې برخه واخلي."

Abdel Mahamat چې د يوولسم ټولګي يو زده کوونکی دی د خپلو ملګرو زده کوونکو سره د مرستې لپاره ليوالتيا څرګنده کړه. هغه د رياضی په کلب کې په دې خاطر شامل شو چې د هغو کسانو سره مرسته وکړي چې په رياضی د مشکل سره مخ دي. هغه وويل "که چيرې دوی د کورنی وظيفې په ترسره کولو کې کومه ستونزه لري نو موږ له دوی سره د مرستې لپاره چمتو يو."

د Clarkston عالي ښوونځی مديرې Pattie Lemelle نوي شامليدونکي کسان په دې مکلف کړل چې د رياضي د سيمې په اړه د نړې نظر بدل کړي.

هغې وويل "زه پوهيږم چې [دا زده کوونکي] به په هغو زده کوونکو او کارمندانو کې د رياضي رغبت رامنځته کول پيل کړي کوم چې رياضي نه خوښوي." "موږ په دوی تکيه کوو ترڅو موږ ټولو ته د يو ښه ځای په لور لارښوونه وکړي ځکه چې دا د رياضي مينځپانګې پورې اړه لري او موږ هغه فعاليتونو ته سترګې په لار يو چې دوی د دې ښوونيز کال په اوږدو کې زموږ لپاره ترتيب کړي دي."

دي مراسمو د رياضي په برخه کې د مهارت ترلاسه کولو او د زده کوونکو ترمنځ د دوامداره اړيکو په رامنځته کولو کې د کلب په ماموريت باندې ټينګار وکړ.

د شموليت د مراسمو اړونده عکسونو لپاره لاندې لنک وګورئ: https://flic.kr/s/aHBqjB2FUA

XXX